# د شهید محبوب سنگر د شعرونو بیلګی

## خپلواکی

که جوغه د جواهرو ور په سر کړی
دنړی ټول نعمتونه ورته ورکړی
او د ژوند خونه یې جوړه له سره زر کړی
دی واکمن د هوا، ځمکي، سمندر کړی
څه په کار چې د بل لاس لاندې ژوندون وي
خپلواکي دی وي که ټول ژوند زړه چاودون وي

## غزل

ژغورن مې نشته په ملا تیر وتم

سپڅلې زړه وم په موسکا تیروتم

ملالې سترګې درواغجنې وی ستا

په برندو برندو کتو ستا تیروتم

بی وفا مینې کړم په زړه پرهارجن

چې په چم چم ډکه خندا تیروتم

اوس په ما خانده چې یم وړ د خندا

په لباسي تشه ښکلا تیروتم

## دا وایم

مه مې ډاروه له زندانو سره اشنا یمه

زه په جیلخانه کې زیږیدلې او پیدا یمه

ما د جیلخانو توري تمبې او شپې لیدلي دي

ځکه ستا له زور سره زه دومره بې پرا یمه

ما د ژوندون لوست له خپلو خلکو نه اخیستې دی

زه د دی بیوزلو یم او دا اتلان ستان یمه

نه مې شی وژلی برسیرن مې دومره مه ګڼه

زه یوه خپه د نهضتونو د دنیا یمه

زه اوښتونوال یم په دی لار کې سرښندل غواړم

دا زما غوښتنه دا مې هیله تل دا وایمه

## نړیوالو

نړی وا لو، نړی والو
وړو لویو ولسونو
تور پوټکو،
سره پوټکو،
ژیړو ژیړو،
سپینو سپینو.

ختیځوالو،
لوېدیځوالو
دسهیل،
نیلاب کامونو
د جګړې د ګواښ په وړاندې
ټینګ دسولې لوی سنګر کړئ
او دسولې په وسله،
ټوټې ټوټې
د جنګ دغه لښکر کړئ .

HOWD هـــود

## سوله او جګړه

دناولو جګړو اورکې ارتینې شولې میراتې

دجګړو تر پېټي لاندې ډیرې غاړې شولې ماتې

د لرغون تمدنونو کنډوالې او لوټې لوټې

ډکوي په وسلو زېرمې جګړه مار جګړه غوښتونکې

ځئ چې و سوځو دا زېرمې که وي ځوک سوله غوښتونکې

## خپلواکي

که جوغه د جواهرو ور په سر کړی

دنړی ټول نعمتونه ورته ورکړی

او د ژوند خونه یې جوړه له سره زر کړی

دی واکمن د هوا، ځمکې، سمندر کړی

څه په کار چې د بل لاس لاندې ژوندون وي

خپلواکي دی وي که ټول ژوند زړه چاودون وي

## ځئ

نشته نشته، په بیلتو کې نشته خوند
ورک کړه ورک کړه ورک کړه د ځانځانیو چټي ژوند

ځئ چې د دبېلتون د جنګ اورونه کاندو بند
ځئ چې په یو والې سره وکړو لوی سوګند

ځئ چې شو یو موټي په ښکاره او په څرګند
ځئ چې خپل غلیم ته ورکړو ورکړو یو ګډ پند

ځئ چې مات کړو مات د ځانځانی د لاس مړوند
ځئ چې دا خبیث د مرګ په دار کې کړو ځوړند

هوډ
HOWD

# زما هيواده

هغه زړه دی وچوي وچوي
چې وي تش دغوښو بوټې
خو چې نه وي په کې نه وي
وايم ستا د مينې اور
په کار نه دی په کار نه دی
اور پې بل کړه چې ايره شي
چې ماغزو کې نه وي
دغه ستا د خلاصون شور
آ مغزی دی دل شي دل شي
د نيتونو په ميچن کې
په بيوزلو چې غړمبيږي
ټيټ په وړاندې وي د زور
غټې غټې مټې مټې
ورک کوه يې که پولاد وي
چې پر وس وس يې وران نشي
ستا د هر يو غليم کور
په زما ګرانه هيواده
ته مې ځان يې ته  مې ساه يې
ستا په مينه مې منلي
پر سولی که شمه سپور
ته مې مينه ته مې ژوند يې
زړه مې خوځي ستا لپاره
ته مې مينه مينه مينه
ته زما د سترګو تور
تا کې خوې شوم تا کې لوی شوم
تا د ژوند لوستونه راکړل
تا ښه پوه کړم تا سړې کړم
ته مې پلار يې ته مې مور
خو چې پايم تا به ستايم
تابه ښندم تاکې مرم به
ته مې کيخ يې ته مې ګور
ته مې هيڅ ميږه مه بوله

او خپل ځوی راته مه وایه
که مړ نه شم ستا په لار کې
را کوه د ننګ پیغور
ستا په مینه نیول شوای
ترل شوای کوټل شوای
اچولای یې زندان کې
یمه ستا د عشق په تور
په زما ویاړلیه کوره
زما ننګه زما پته
دا خپل ځان درځارومه
نه لرم په ژوند څه نور
په زما ګرانه وطنه
ما منلي ما منلي
که په وینو مې هم کیږي
ستا خلاصون دی په ما پور

## پته مینه

سباوون راغې، شپه په وتلو
سپیدی سپیدی دي په چاودیدلو
تیارې تیارې شوی په تښتیدلو
وخت رانږدی دی د لمر ختلو
وخت د خوب وړیو د ویښیدلو

***

غږ دی اوځوړ دی شور د بلبلو
غوټی غوټی دي په خندیدلو
دي غوړیدلي غونچې د ګلو
وږمه وږمه ده په نخیدلو
ښه ننداره ده د بڼ د ښکلو

***

زه او جانان یو د بل غیږ کې
راغې وخت راغې د بیلیدلو
وروستی شیبه ده د ښکلولو

هود
HOWD

ګرانه ښېږه ده د يار د تللو
لوغړن زړه شو په غورځيدلو

***
بيلتون چې راغې هر څه ی وران کړه
شهی مې لاړه يه بيړه بيړه
ويره يې دا وه چې رسوا نه شي
و مينې راز يې خوندي کولو
وه پټه مينه د پټولو

## زما ولسه

خانانو خوله درماته کړې هيڅ ويلای نشې
خوني منګولو کې يې ښکيل ځان خلاصولای نشې
د ملکانو تر ظلمونو لاندې ورکک او سپک شوې
بی پته ژوند شو درته پاتې پت ګټلای نشې

که يې حاکم دی، که قاضي دی که کوتوال ځارنوال
که صدر اعظم دی، که وزير دی، که والي که ښاروال
پاچا لوی غل دی تاړاک ګر دی ټول هموار يې لوټ کړ
ستا ټوله شته، پت او ناموس يې درته کړلو پايمال

زړو لوی خيټو څخه جوړه د مشرانو جرګه
په غلو ده ډکه د شوری د وکيلانو جرګه
همدا يې کار دی دا يې دنده پی وياړنه کوي
د لوټ تالان لار لټوي د وزيرانو جرګه

چې تا واکمن کړ اوس هغه د تا واکدار شو دلته
کو يې در وران کړ چې بر لاس دا تور سرکار شو دلته
چې نه يې نوم و نه يې پلار او نه يې مور معلومه
د بل نوکر چې راغې دلته نو بادار شو دلته

ته ورته ګورې سپينې سپينې دی ستا کور ورانوي
دی ستا له زيرمو په د باندې کې ماڼی جوړوي
لږ همت وکړه لاس يې مات کړه چې هميش ترې خلاص شې
کنه نو دی ستا په لرغوني هيواد اور لګوي

# سرغندوی شاعر ته

ګرانه زړګي ته رانيږدی اشنا
زموږ د لارې، عقيدې اشنا
له تاسره يو څو خبرې لرم
سړې، تودې، خوږې، ترخې اشنا

ته د غمونو او ويرونو شاعر
زه د بيوزلو د رنځونو شاعر
ته د زيارکښو د ربړونو شاعر
زه يې د کړيکو فريادونو شاعر

ته د ولس د سرو ننګونو شاعر
زه يې د شخړو او رزمونو شاعر
ته يې د ماتو او بريو شاعر
زه يې د برم او پرتمونو شاعر

زه او ته دواړه بيدياني بوټي يو
اغزي پرست يو، ګل لمانځونکي نه يو
له هر يو ځلي نه بت مه جوړوه
موږ بت شکن بت جوړوونکي نه يو

ته د سړې ځمکې په زړه کې کره
د راروان ژوندون تاوده تخمونه
زه به دی شاړو ته اوبه سيخوم
چې رازرغون شي په کې سره ګلونه

لاره اوږده ده کړليچونه لري
شاعره واوره چې ستومان نه شې
دا خو لا پيل دی تر پای ډير واټن شته
په وراندې څه چې پښيمان نشې

د خونړی لار هر يو ګام او تړه
د هر کړليچ لنډول زغم غواړي
د مرګي کومې کې د لارې مزل
پهلوان زړه غواړي لوی غم غواړي

HOWD
هود

واوره زما د ننګ خبره واوره
په دغې لار چې ځو ټول عمر به ځو
که په ليمو او په خاپوړو تګ شي
ځان به منزل ته خامخا رسوو

په وړاندې درومه چې راستون نه شې
ځه د هدف په لور مخ مه ګرځوه
د سرښندنې وخت کې جګې جګې
دا په تا پور دی، چې ما مه هيروه

www.howd.org